مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر ۲۰۲۳/۰۹/۲۲

# هغه ګوهرچې زه يې د لټون پسي يم

## (ادبی ټوټه)

نه پوهيږم چا او څه شي زما د خيال تسلسل وشلاوه، څکه هغه زما تصور ته راغلي وه، زه د سمندر غاړي ته په ډيره چوپتيا کې ناست وم او د خيالاتو په اوږو ډير ليري واټنونو ته تللی وم.

ظاهراً مې سترګي د سمندر په څپو ښخي کړې وي، خو روح او فکر می بل ځای وو، يو وخت لکه د سينما پردې، د سمندر څپې می د سترګو نه ليري شوي، ځان ته می پام راواوښت دومره پوی شوم، چي زما تش کالبد دلته ناست دی، روح او خيال می بل ځای کې دی او زه په خپله د سوچونو په دريابونو کې لاهو يم، د يو بی خياله سمندر په څپو کې لاس او خپې وهم، څکه ما نه يو قيمتی ګوهر ورک دی او زه د هغه په لټون پسي د سمندر په ژورو کې غوپې وهم.

هوکې! هغه ګوهر چې ما نه ورک دی او زه يې په لټون پسي يم، هغه وطن دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ